# زیار

د زیار کښانو هنداره

کـــار، نان، لباس، خانه برای زحمتکشان

انجمن اجتماعی صنف زحمتکشان افغانستان ۱۳۸۹

حوت ۱۳۹۲ | انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان | شماره نوزدهم


## هشتصد پایگاه نظامی نیروهای ستمگر خارجی برای کشتار زحمتکشان افغانستان

اگر به کشورهای جاپان، کوریای جنوبی، فلیپین، اکوادور و... نظر بیاندازیم مردم این کشورها همیشه به ضد پایگاه های امریکایی در این کشورها اعتراض می کنند و آنها را تروریست های جنسی و جنایتکار خوانده خواهان برچیدن پایگاه های امریکایی می شوند. این مردم جنایت و قساوت امریکایی ها و تهدید روزمره سربازان شاشوک آنها را با پوست و گوشت لمس می کنند. ولی چیزی که عیان است، سطح جنایت سربازان امریکایی در کشورهای فوق الذکر به مراتب کمتر از کشورماست. در این جا می کشند و بعد هم بر اجساد مرده ها می شاشند.

یکتن از جنرالان ستمگر بنام جوزف دانفورد که در حال حاضر فرمان کشتار مردم را در افغانستان صادر می کند در این اواخر گفته است که نیروهای خارجی در افغانستان هشتصد پایگاه نظامی با بیش از **140** هزار سرباز داشتند که حال تعداد این پایگاه ها به کمتر از **50** و تعداد سربازان مستقر در آن نیز به **60** هزار تن کاهش یافته است. او گفت در عوض در دوازده سال گذشته بر پولیس و اردوی دولت فعلی بیش از شصت میلیارد دالر مصرف کرده اند.

وقتی جنایات و تجاوز جنسی سربازان یکی دو پایگاه امریکایی در هر **ص ۳**



## ۶۰۰ زره زیارکښان د ماینونو له ګواښ سره مخامخ دي

په افغانستان کې هر څومره رنځ او درد چې دی د زیارکښ لپاره دی. زیارکښ وژل کیږي، لوټیږي، وهل کیږي، توهین کیږي، اسیر کیږي او په بیوزلی کې لاس او پښې وهي. د دې ناورینونو تر څنګ، ماینونه هم د زیارکښانو لپاره لوی ګواښ دی. ماینونه چې د زیارکښانو د بیلابیلو دښمنانو لخوا کرل شوي دي، نه د کوم شتمن او سرمایه دار ژوند اخلي او نه یې کوم زوي او لور ټپي کوي. دا یوازې د زیارکښانو کورنۍ دي چې د ماینونو قرباني کیږي.

د جدي په نهه ویشتمه نیټه، د افغانستان د ماین پاکۍ اداري خبر ورکړ چې په افغانستان کې ۶۰۰ زره تنه د ماینونو د کروندو په **۵۰۰** متری کې ژوند کوي. دا وخت په افغانستان کې ۴۴۰۰ داسې ساحې شته چیری چې لا ماینونه د افغانانو ژوند اخلي. همدا اوس ۱۲۰۰ کلي د ماینونو د چاودني ګواښ سره مخامخ دي چې اکثریت خلک یې بیوزله دهقانان او نور زیارکښان دي. د ماین پاکۍ د اداري له شمیرو سره سم هره میاشت په اوسط ډول ۳۲ تنه د ماینونو د چاودنې له امله مړه او یا ټپي کیږي.

دا په میاشت کې ۳۲ تنه انسانان څوک دي چې د ماینونو د کر له امله مري یا ټپي کیږي؟ دا هغه بیوزله زیارکښان دي چې د نورو دربدریو، بدمرغیو، کړاونو او دردونو تر څنګ د ماینونو قرباني کیږي. دا د زیارکښانو میرمنې، ماشومان او ځوانان او پیغلې او بوډاګان او سپین سری دي چې د ماینونو قربانیان دي. دا کرل شوي ماینونه چې په میاشت کې ۳۲ تنه زیارکښان وژني او یا یې ټپي کوي، چا کرلي دي؟ دا د زیارکښانو دښمنانو کرلي دي، هغه دښمنانو چې د زیارکښانو دروغجنې چیغې وهلی او زیارکښان یې وژل، هغه دښمنانو چې د اسلامي دولت واګی په لاس کې درلود او یوازې **۲۵** زره بیوزله انسانان یې په همدې پلازمینې **۳مخ**

## چهار میلیون انسان فقیر اما بیکار در کشور چه می خورند؟

در حالیکه اداره احصائیه مرکزی از هر چهار کارگر یک کارگر را بیکار می خواند اما وزارت کار و امور اجتماعی این آمار را نادرست می خواند و باور دارد که در حال حاضر **10** میلیون افغان واجد شرایط کار هستند که از این میان **4** میلیون آن بیکار هستند.

بیکاری در کنار ده ها فاجعه و بلا دیگر، بلای است برای تهدید زندگی زحمتکشان تهیدست. زحمتکشانی که آرزو دارند کار کنند و با بازوی خود نان بدست بیاورند در حال حاضر ساعت ها در چهارراهی های شهرهای بزرگ و خورد افغانستان گرد می آیند ولی کاری پیدا کرده نمی توانند و با دست خالی و چهرهٔ خسته به خانه های فقیرانه شان بر می گردند.

این خیل بیکاران در کشوری که قیمت مواد اولیه سر به آسمان میزند و سرپناه برای فقرا به مسئلهٔ زندگی و مرگ تبدیل شده است، بالاخره چه می خورند، چه می کنند و چگونه زندگی می کنند؟ این را فقط زحمتکشانی که طعم تلخ بیکاری را چشیده اند به خوبی می دانند، نه مسوولین دولتی که در خدمت ستمگران قرار دارند، نه سرمایه داران و تاجران و فئودالان و اربابان چپاولگر، نه اینجو داران مزدور و نوکران سفارت خانه ها و اربابان دونر و نه هم جامعه مدنی دالر گیر.

زحمتکشان می دانند که کودکان ایشان بر زباله های یورش می برند و بر اساس خبر تلویزیون «ژوندون» گاه برای لقمه نانی با حیوانات مثل سگ و پشک نیز درگیر می شوند، کودکان و زنان زحمتکشان بر جاده ها می برآیند و گدایی می کنند، باندهای مافیایی سرمایه داران از کودکان، زنان و مردان این خیل بیکاران برای **ص۲**



## آیا ستمگران «اتحادیه اروپا» می توانند مدافع حقوق زنان زحمتکش افغانستان باشند؟

سازمان دیده بان حقوق بشر که ابزاری است جهت پوشاندن ستمگری های امریکا و اتحادیه اروپا و سایر کشورهای غارتگر در سرتاسر جهان، اینک از ارباب ستمگری اروپا (اتحادیه اروپا) خواسته است تا به وضعیت زنان افغانستان بطور جدی رسیدگی نماید.

هیدربار که از مسوولین سازمان دیده بان حقوق بشر در افغانستان است در مصاحبه اش با رادیو آزادی گفته است که «ما مایوس خواهیم شد که یک پاسخ واضح از سوی اتحادیهٔ اروپا و کشورهای عضو اروپا نداشته باشیم. بناً ما برای آن ها نوشتیم و خواستیم تا وزاری خارجه و اتحادیه اروپا در سطح سیاسی در یک یا دو سال آینده، بیشتر اقدام های را انجام دهند و از حقوق زنان در افغانستان حمایت کنند»

این کثافت گویی همان داستان خواستن ترحم از گرگ تیز دندان را در ذهن زنده می کند. اتحادیهٔ اروپا که از کشورهای غارتگر تشکیل شده است، در بیش از دوازده سال ستمگری در کنار امریکا، نشان داده است که سیستم سیاسی و اقتصادی این اتحادیه بر همان غارت و چپاول و کشتار استوار است که تود های زحمتکش افریقایی با درد و رنج احساس کرده اند و می کنند.

اگر از جنایات سربازان ستمگر اتحادیهٔ اروپا در چوکات ناتو در کشور عزیز و رنجدیده ما بگذریم، دست اربابان این اتحادیه در کشتار خلق رنجدیده لیبیا، مصر، مالی، سومالی، سوریه، الجزایر و... رنگین است. این ستمگران از هیچ نوع جنایت در حق زحمتکشان و بخصوص زنان ستمدیده کشورهای افریقایی دریغ نکرده اند. ستمگران این اتحادیه همین اکنون با طیاره های ناتو بر عروسی زنان زحمتکش بم میریزند و وارد خانه های آنان شده سینه های ماتمدار شان را به رگبار می بندند. جنرال المانی این اتحادیه در یک بمباری بیش از ۱۷۰ قندزی زحمتکش را قتل عام کرد و با تیل تانکرهای مورد هدف یکجا سوختاند.

زنان شیندند، بکوا، بالابلوک، کنر، ارزگان، کندهار، هلمند، ننگرهار، غوربند و سایر مناطق افغانستان بوسیله ستمگران این اتحادیه و امریکا کشته شده اند، پس تنها احمقان، نوکران ستمگران، اینجو داران مزدور و جامعه مدنی دالر گیر و مامورین خارجی مثل خانم هیدبار جرئت کرده می توانند از ستمگران بخواهند تا «از حقوق زنان در افغانستان حمایت کنند»، نه انسان های با وجدان و با شرف و طرفدار واقعی زنان زحمتکش.

زنان زحمتکش که هر روز بوسیله ستمگری و جنایت امریکا و اتحادیه اروپا زندگی دوزخی را تجربه می کنند، زنان زحمتکش که بوسیله طالبان فاشیست و جهادی های تفنگدار کشته می شوند و مورد تجاوز جنسی قرار می گیرند، زنان زحمتکش که بوسیلهٔ اینجوداران مزدور و جامعه مدنی دالر گیر مورد بهره برداری تجاری قرار می گیرند، نه بوسیله اتحادیه اروپا و سربازان امریکایی و دوستان داخلی آن، نه بوسیله اینجوها و جامعه مدنی که سرش در آخور سفارت خانه های غارتگران بسته است و نه هم بوسیله هیچ نیروی مزدور دیگر به حقوق واقعی خود رسیده نمی توانند. زنان زحمتکش با اتحاد و همبستگی خودشان و با کار مشترک با برادران زحمتکش شان و تنها و تنها با اتکا به بازو و نیروی خود شان به حقوق واقعی خود که همانا رهایی از ستم های مختلف است، رسیده می توانند.

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

## بهرنی یرغل، د زیارکښو افغانانو ماشومان بدمرغۍ ته کاږلي دي

د امریکا تیری که له یوې خوا د شتمنو او اربابانو او هیوادپلورنکو او اینجو لرونکو لپاره زیری و او دې ټولو په ګډه خوله د تیري څخه ملاتړ وکړ او هغه یې په یو نامه او بل نامه د هیواد په ګټه وګڼو، بلې خوا ته دا تیری د زیارکښانو لپاره د بدمرغۍ د لړۍ ادامه او د دې لړۍ د لا وحشتناکه کیدل وو.

که د امریکا او د هغه د ناټویی ملګرو د اوسني تیري له بیلابیلو ناوړو او ترهه ایزه اړخونو تیر شو او یوازې د دې وحشتناکه استعمار تاثیرات پر ماشومانو تر پام لاندې ونیسو، نو په ښکاره ډول معلومیږي چې دا تیری څومره د ماشومانو ژوند تهدیدوي. د ماشومانو وژل، بمباري کول، انتحار ته لیږل، د جنسي تیري قرباني کیدل، اختطاف، اعتیاد، ناروغتیا، ولږه او سوالګري د امریکا د تیري اغیزې پر ماشومانو ښکاره کوي.

په دې وروستیو کې د ماشومانو په وړاندې د جنسي تیري، اعتیاد او خوارځوکۍ کچه ډیره لوړه شوی ده. د تازه شمیرو له مخې په یوه کال کې د ماشومانو په وړاندې نژدې ۴۰۰ د جنسي تیري پیښې تر سره شوي دي چې ښکاره کوي چې د زیارکښانو ماشومان په یو هیواد کې نه بلکې په یو جنایت خانه کی ژوند کوي. همدا ډول د همدې اوسني دولت د شمیرو له مخې تر دو نیم سوه زره ماشومان په مخدره مواد معتاد دي او یا هم د تریاکو په کروندو کې کار کوي. د دې دردونکو ناورینونو تر څنګ ولږه هم ورځ تر بله ډیریږي چې مستقیم اثرات یې پر ماشومانو په ښکاره ډول لیدل کیږي او همدا دی چی د ملګرو ملتونو د شمیرو له مخې د ۲۱۰۲ کال په مقایسه په ۲۰۱۳ کال کې د ماشومانو د خوارځواکۍ اندازه **۵۰** فیصده ډیره شوی ده.

کندهار، فراه، کنړ، پکتیا، پکتیکا، هلمند او نور جنوبی ولایتونه د هغو ولایتونو په جمله کې راځي چې ماشومان یې تر ټولو زیات خوارځواکي ګالي او له ولږې سره ژوند تیروي. په دې ولایتونو کې د بهرني وسله والو ستمګرو جنایتونه د نورو ولایتونو په پرتله زیات دي او همدا دی چې په دغه ولایتونو کې د ماشومانو په وړاندې د جنایتونو او ناورینونو کچه ډیره لوړه ده، که څه هم په شمال کې د ماشومانو په وړاندې د جنسي تیري شمیرې د نورو ځایونو په مقایسه لوړی معلومیږي، چیرې چې تنظیمي او جهادي ډلې په بیلابیلو نومونه فعالیت کوي او د زیارکښانو ژوند ګواښي.

تاریخ ښودلی چې په هر هیواد کې چې د استعمار د جنایتونو لړۍ پیل شي، هغه هیواد به ښه ورځ ونه ګوري. که په افغانستان کې د استعمار د لسګونو نورو جنایتونو څخه تیر شوو د کابل د اندرګاندي روغتون د خوارځواکۍ د برخې مسوول ډاکټر سیف الله اباسین په ښه ډول د استعمار پایله تشریح کوي: «په ۲۰۰۱ لومړي کال کې وضعه په کابل کې ډیره خرابه وه خو اوس چې څه وینم د ۲۰۰۱ کال څخه لا بده او خرابه ده.» د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن باور لري چې په استعمار او استبداد کې هیڅکله ملتونه او په تیره بیا زیارکښان هوساینې او آزادۍ ته نه رسیږي. آزاد ملتونه د استعمار پرته وده او پرمختګ کوي. زیارکښان او د زیارکښانو ماشومان یوازې هغه وخت په هوساینه کې روزل کیږي چې خپلواکي، آزادي او برابري په ټولنه کې حاکمه وي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن


**زیار**

**صاحب امتیاز:**

**انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان**

**شمارهٔ تماس:** ۰۷۷۲۰۴۳۶۹۴

**ایمیل:** zayar.af@gmail.com

**وب لاگ:** www.zayarafg.blogspot.com

حساب بانکی بانک ملی: ۱۰۰۱۳۳۴۰۳۲۹۶۲

# تر هغه چې استعمار او استثمار وي، بېوزلي به هم وي

شیرزاد

امپریالیزم د سرمایه دارۍ او پانګوالۍ هغه خونړۍ او لوټماره پړاو دی چې په کې جنایت او خیانت، لوټمارۍ او شوکمارۍ، استثمار او استعمار، وژنه او اسارت ورځنی چارې ګڼل کیږي. افغانستان د امپریالیزم د خیانتونو او جنایتونو ښه نمونه ده. دلته اوس نژدې ۴۸ امپریالیست هیوادونه هره ورځ وژل کوي او له هیڅ ډول تیري ډډه نکوي.

د استعمار سره سم، اسثمار هم ډیریږي. استعمار او استثمار د امپریالیستي جنایتونو د سکې دوه مخونه دي. د استعمار او استثمار سره سم بېوزلي او شتمني هم ډیریږي. ډیری خلک چې د زیارکښانو په نامه یادیږي، بېوزله کیږي او لږ شمیر خلک چې ورته سرمایه دار، تاجر او خان او ارباب ویل کیږي، لا شتمن کیږي. یو شمیر نور خلک چې اقتصادي وضعیت یې د بېوزلۍ له کرښې یو څه پورته دی، د استعمار د اوږدیدو سره د بېوزلو انسانانو له ډلې سره یوځای کیږي، ځکه دوی نور هومره عاید تر لاسه کولای نشي چې خپل ژوند ته د پخوا په شان ادامه ورکړي، ځکه شتمن ورنه شته فرصتونه اخلي او هغوې په بېوزلو کارګرانو بدلوي.

د افغانستان د اوسني دولت چې د امریکا او نورو ستمګرو دولتونو هر ډول مرسته او ملاتړ له ځان سره لري، د مرکزي احصائیی ادارې وروستې شمیرې ښکاره کوي چې دا وخت په افغانستان کې د زیارکښانو وضعیت د پخوا په پرتله ډیر خراب شوی دی. که څه هم په دې شمیرو باور نشو کولای، ځکه د بېوزلۍ کچه له دې شمیرو څخه ډیره زیاته ده، خو بیا هم دا شمیرې د زیارکښانو دردمن وضعیت په داسې یو هیواد کې چې د امپریالیستانو تر نیواک او اشغال لاندې دی په ښه توګه بیانوي.

د مرکزي احصائیی د آمارو مطابق دا وخت په افغانستان کې ۳۷ فیصده خلک د بېوزلۍ او فقر د کرښې لاندې ژوند کوي او ۳۰ سلنه خلک غذایی امنیت نلري، حال دا چې تیر کال د هغو کسانو شمیر چې غذایی امنیت یې نه درلود، ۲۸ فیصده و. دا شمیرې په ښکاره توګه د استعمار کرغیړنې پایلې پر خلکو او په تیره بیا پر بېوزلو انسانانو ښکاره کوي. دا شمیرې ښکاره کوي چې هر څومره چې د استعمار کچه زیاتیږي، په هماغه اندازه بېوزلي ډیریږي او زیارکښان ستونزمن ژوند سره مخامخ کیږي. دا ناخوالې او ناورینونه هغه وخت له منځه تللی شي چې د استعمار کړۍ په افغانستان کې ماتې شي او ورسره سم د زبېښاک او استثمار په وړاندې زیارکښان په ګډه او یووالي حرکت وکړي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن

# استعمار و جنایت، زحمتکشان افغانستان را به افسرده ترین مردم جهان تبدیل کرده است

(نویسنده: سیر)

در کشوری که بم می ریزد و هر بم ده ها زحمتکش را می کشد، در کشوری که در و دیوار خانه های گلین توده های زحمتکش بوسیله چکمه های خونین سربازان ستمگر خارجی شکستانده می شود و کودکان و زنان به رگبار بسته می شوند، در کشوری که قریه هایش با خون دهقانان سرخ می شود، در کشوری که سینه کارگرش با گلوله امریکا و ناتو سوراخ سوراخ می شود و فاشیست های طالب سرِ معلم و داکتر را می برد، در کشوری که در یک سال 400 تجاوز جنسی بر کودکان زحمتکشان صورت می گیرد، در کشوری که یک و نیم ملیون عضوی خانواده بزرگ زحمتکشان معتاد می شود، در کشوری که بیش از یک میلیون کودک مصروف کار شاقه است، در کشوری که جرم و جنایت روز تا روز افزایش می یابد، در کشوری که ده ها تن از سردی زمستان میمیرند، در کشوری که گرسنگی بیداد می کند و... در چنین کشوری که به کشور نمی ماند، هیچ انسان رنجدیده، ستمدیده و با وجدان و با شرف نمی تواند شاد باشد.

توده های زحمتکش افغانستان در صدر افسرده ترین مردم جهان قرار دارند. بر اساس سروی پوهنتون کوینزلند استرالیا، کشور ستمدیده ما بالاترین میزان افسردگی را دارد. با وجودی که این سروی از هر پنج افغان، یکی را افسرده می خواند، اما حقیقت اینست که در چنین جنایتکده خونین، هیچ انسانی با شرف و با وجدان نمی تواند شاد باشد. پس وقتی شاد نبود، افسرده و غمگین است. چگونه یک انسان شریف می تواند شاد باشد، وقتی می شنود که در دره غوربند 14 هموطنش بوسیله خارجی ها کشته شدند؟

در این سرزمین دربدر، سرزمینی که زندان بزرگ جهان است، زندانی با 25 میلیون اسیر، شادی نمی تواند موجود باشد. اینجا که زنان قربانی خشونت و تجاوز جنسی هستند، چگونه یک زن با وجدان می تواند مسرور و شاد باشد؟ اینجا که جنایتکاران بدمستی می کنند و چپاولگران می درند، چگونه زحمتکشان می توانند شاد باشند؟ اینجا سرزمین افسردگی زحمتکشان و سرزمین قهقه و شادی و خوشی غارتگران، ستمگران، چپاولگران و دالر دوشان و یورو بران است.

نمی توان زحمتکشان را به خاطر افسردگی ملامت کرد. به نیروی زحمتکشان باید هزار بار آفرین گفت که با این همه جنایت هنوز زنده هستند. اما، افسردگی راه نجات زحمتکشان نیست. راه نجات زحمتکشان، نیرو، توانائی، امید، آرزو، آرمان و تلاش برای پیاده کردن آرزوها و آرمان ها است، آرزوی رهایی از ستم و جنایت و تلاش همگانی زحمتکشان، شادی را در حلقوم جنایتکاران خشک می کند، پس ما زحمتکشان باید با گام های استوار بر این راه برویم.

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

## چهار میلیون انسان...

جنایت و جرم های جنایی استفاده می کنند و آنان را با عفریت جنایت تهدید می کنند.

این وضعیت دردناک تهیدستانی است که در فقر مطلق بسر می برند. از اینرو نمی توان بر آمار ارائه شده اداره احصائیه مرکزی که تعداد افغان های زیر خط فقر را 37 درصد ارائه کرده، باور کرد، زیرا موجودیت 4 میلیون انسان بیکار نشاندهنده اینست که تعداد بیشتر مردم افغانستان زیر خط فقر قرار دارند و این فیصدی با گذشت هر روز بیشتر شده میرود زیرا بر اساس نظام اقتصاد بازار بیکاری جزوی از این بازار است و تا این بازار و این خارجی ها و نوکران داخلی آن هستند، زحمتکشان و تهیدستان به بهروزی و رفاه نمی رسند و هر روز تعداد بیشتر تهیدستان به خیل بیکاران افزوده خواهند شد.

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

★



# په هرات کې د اویا بېوزلو کډوالو مړینه د ظالمانه وضعیت ښکارندوی

سعادت «ښارګوټی» چې د هرات ښار په دیرش کیلومترۍ کې موقعیت لري، د بېوزلو او ناچارو زیارکښانو د مړینې په ښارګوټي بدل شوی دی. په دې ښارګوټي کې د غور او بادغیس ولایتونو کډوال ژوند کوي. دا بېوزله زیارکښان د بادغیسي او غوري ستمګرو قوماندانانو او فقر له امله هرات ته راغلي څو ژوندي پاتې شي او اولادونه یې د بلوسګرۍ او ستم قربانیان نشي.

خو هرات د دې زیارکښانو لپاره د هوساینی کور کیدلی نشي. ځکه هرات د نورو ولایتونو په شان په ستم او ظلم او جنایت کې ډوب دی. د دې ښار بېوزله کډوال وایي چې په تیرو درې میاشتو کې ۷۰ تنه د یخنی او لوږې له امله مړه شوي دي. په دې اویا تنو کې ۵۰ ماشومان او ۲۰ نور ښځې او نارینه دي. دا تنګلاسي او بېوزله کډوال وایي که غم یې ونخوړل شي، نو په دې په اصطلاح ښارګوټي کې به د کډوالو د مړینې شمیره سیوا شي.

په تیرو دریو میاشتو کې په یوه «ښارګوټي» کې د اویا تنو مړینه، په ښه توګه د افغانستان د اوسني ستمګرانه وضعیت ښکارندوی کوي. ښکاره کوي چې زیارکښان په داسې یو نظام کې چې د بهرنیو ستمګرو په مټ چلیږي څومره دردمن ژوند لري، له دې پرته تمه لرل یوازې د احمقانو او شوده ګانو له عقل سره برابریږي.

دا وخت افغانستان د نورو جرایمو او جنایتونو تر څنګ د زیارکښانو لپاره د کډوالۍ کور ګرځیدلی دی. په زرګونه زیارکښان او بېوزله کورنۍ د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د کډوالی دردمنی ورځې تیروي. د بهرنیانو ظلم، د ځایي جهادي قوماندانانو ستم، د طالبانو ځورول، د اربیکو لوټل، د پولیسو غلا او شوکمارۍ، بېوزلی، ناداري او وزګارتیا ټول سبب شوي چې زیارکښان خپل کورونه او کلي پریږدي او لویو ښارونو ته پناه ویسي. خو په لویو ښارونو کې چیری چې لوټماران واکمن دي، دوې ابدا د نیمکرغۍ او هوساینې په لاره ګام وهلی نشي.

سوالګري، دربدري، ځورول، مړینه، ولږه، ناروغتیا او سپکاوی هغه څه دي چې په لویو ښارونو کې د دې بېوزلو انسانانو انتظار کاږي. استعماري جګړه له وحشت او جنایت پرته بله پایله نلري. په وحشیانه او استعماري جګړو کې شتمن لا بډایه کیږي او بېوزلي لا بېوزله کیږي، نو تر هغه چې دا جګړه دوام ولري او لوټماران د واکمنۍ پر ګدۍ ناست وي، بېوزلي له دربدرۍ پرته بل ورځ لیدلی نشي.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن

## هشتصد پایگاه نظامی ...

یکی از کشورهای دیگر سبب اعتراض مردم آن کشورها شده و مردم ستمدیده آن کشور ها در تلاش هستند تا بساط این پایگاه ها را برچینند، در کشوری ما هشتصد پایگاه این ستمگران با بیش از یک و نیم صد هزار سرباز جنایاتی را انجام داده که در تاریخ کشور ما بی سابقه بوده است. تمام این پایگاه ها برای کشتار مردم ما ایجاد شده اند. جنگ دروغین ضد «تروریزم» بوسیله بزرگترین تروریست جهان بهانه ای است برای اهداف درازمدت استعماری امریکا. تنها سرمایه داران، فیودال ها، تاجران، اینجو داران و روشنفکران بزدل، این ستمگران را دوستان صمیمی خود می خوانند و هر صدای مخالف واقعی ضد ستمگری ارباب شان را برچسب «جاسوسی» می زنند تا خود را مدافعین «منافع ملی» نشان دهند. ولی باید بدانند آنهایی که به‌ضد ستمگری امریکایی ها و ناتویی ها هستند، در عین زمان ضد تمام جواسیسی هستند که در خدمت پاکستان، ایران وسایر کشورهای ضد مردم افغانستان قرار دارند. زیرا مدافعین واقعی استقلال کشور باور دارند که مبارزه علیه ستمگری کنونی امریکایی ها باید از معبر مبارزه علیه تمام جواسیس کشورهای منطقه نیز بگذرد، در غیر آن زحمتکشان افغانستان روی خوشبختی را نخواهند دید.

هیچ نوع پایگاه خارجی های ستمگر به ملت ها آزادی و بهروزی آورده نمی تواند. دوازده سال گذشته نشان داده است که پایگاه های امریکایی ها و متحدان ناتویی آن به جز بمبار، کشتار و قتل عام های دسته جمعی چیزی برای افغان ها نداده است و داده هم نمی تواند. اگر هشتصد پایگاه نظامی خارجی ها برای کشتار افغان ها بود، 50 باقیمانده آن نیز وظیفه کشتار مردم را دارد وحتی اگر یک پایگاه این ستمگران هم باقی بماند، جنایت این ستمگران ادامه دارد.

انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

(نوشته از سیر)

★

## ۶۰۰ زره زیارکښان ...

زیارکښان وژني او یا یې ټپي کوي، چا کړلي دي؟ دا د زیارکښانو دښمنانو کړلي دي، هغه دښمنانو چې د زیارکښانو دروغجنې چیغې وهلی او زیارکښان یې وژل، هغه دښمنانو چې د اسلامي دولت واګې په لاس کې درلود او یوازې ۲۵ زره بېوزله انسانان یې په همدې پلازمینې کابل کې ووژل، هغه دښمنانو چې د اسلامي امارت پټکۍ په سر وهلی و او بېوزله انسانان یې وژل، هغه بهرني دښمنانو چې له بې ۵۲ الوتکو یې پر زیارکښانو بمونه راچول او د اسلامي دولت چارواکو ورته ویل چې غټ غټ بمونه راوچوي، دا ماینونه د زیارکښانو دښمنانو کړلي دي.

د زیارکښانو دښمنان د ستمګرۍ تر څنګ، دوکه مار او حیله ګر هم دي. له یوې خوا ماینونه کړي چې قربانیان یې دهقانان، چوپانان او بېوزله انسانان دي، له بلې خوا په درجنونو د ماین پاکۍ ادارې جوړې کړي او په میلیونونه ډالره ورته ورکوي چې له دې کار سره ظاهراً ښکاره کوي چې ګنې د ماینونو د کر په ضد دي. خو حقیقت بل څه دی، حقیقت دا دی چې دا ادارې د جنایتونو د پټولو او د پیسو شکولو په هدف جوړې شوي دي. همدا اوس کولای شوو داسې د ماین پاکۍ د ادارو مسوولین پیدا کړو چې په میلیونونه ډالره سپما لري او په بیلابیلو برخو کې پانګه اچونه کړې ده. ماین او ماین پاکۍ د ستمګرانو پروژه ده خو د بېوزلو انسانانو لپاره د مرګ وسیله ده.

د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن

★